داسې ځان غوښتونکي او چارې به وي چې تاسو يې نه خوښوئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله، ته مور ته په څه امر کوې؟ هغه وفرمايل: تاسو به هغه حق ادا کوئ چې پر تاسو دی، او خپل حق به له الله جل جلاله څخه غواړئ

له ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «داسې ځان غوښتونکي او چارې به وي چې تاسو يې نه خوښوئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله، ته مور ته په څه امر کوې؟ هغه وفرمايل: تاسو به هغه حق ادا کوئ چې پر تاسو دی، او خپل حق به له الله جل جلاله څخه غواړئ».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې په مسلمانانو به داسې حاکمان وګمارل شي چې د مسلمانانو په مال او نورو دنیاوي چارو باندې به انحصار کوي، په خپله خوښه به يې مصرفوي او له مسلمانانو څخه به پکې د هغوی له حق څخه انکار کوي. او په ديني چارو کې به هم داسې کارونه کوي چې د منلو به نه وي. نو صحابه کرامو رضی الله عنهم پوښتنه وکړه چې: په داسې حالت کې باید څه وکړي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چې د هغوی دا کار - چې ستاسو مالونه يې ځانته کړل- باید تاسو هغوی ته له غور نیولو او واجب اطاعت څخه منع نه کړي، بلکې صبر وکړئ، غور ورته ونیسئ او اطاعت يې وکړئ او د واک په سر ورسره شخړه مه کوئ، او تاسو خپل حق له الله څخه وغواړئ او - دعا ورته وکړئ چې الله - يې اصلاح کړي او تاسو د هغوی له شر او ظلم څخه وساتي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3156